# د افغانستان اسلامی جمهوری

# د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

# د ارشاد، حج اواوقافو وزارت د ۱۳۹۷ مالي کال لاسته راوړنې

# د ارشاد، حج اواوقافو وزارت د ۱۳۹۷ مالي کال لاس ته راوړنې

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت دافغانستان داسلامی جمهوریت دملی یوالي حکومت دلوړواهدافو دتحقق په موخه چې ولس ته د غوره خدمتونو وړاندې کول دي دپلان له مخې په مرکز او ولایاتو کې په څلورو برخو (ارشاد، حج ،اوقاف اواداري) کې تنظیم اوپه ۱۳۹۷لمریزکال کې سرته رسولي دي.

| برنامې | کړنې |
|---|---|
| ارشادی | **الف: د مساجدو، حسینیو او قراوو په برخه کې:**<br>1. د اجتماعي ستونزو دحل او ديټولنی داصلاح په موخه د جمعو په ورځو کې د جمعو د خطبو لپاره د (۵۲) عنوانه خطبو ترتیب او د جوماتونو دمنابرو له لارې يې خلکو ته وړاندې کول.<br>لکه ( د ښځو په وړاندې تاو تريخوالی، د ښځو او اطفالو اقتصادي او ټولنيز حقوق، د خوړو مصؤنيت ، د دولتي او امنيتی قوتونو څخه حمايت، د مخدره موادو سره مبارزه، د اداری او اخلاقی فساد او انساني قاچاق سره مبارزه ) او داسی نور عنوانونه .<br>2. د ( ۲۰۰ ) مليونو افغانيو په لګښت په پلازمينه او ولايتونوکې د (۴۳۹) مسجدونو او حسينيو، ترميمول او ورته فرشونو برابرول او توزيع کول. او د (19) بابو اداري تعميرونو او د حجاجو (2) بابه مجتمعاتو ترميمول.<br>3. د ازموينی له لاری د کابل ښار په مساجدوکې د روژې په مبارکه مياشت کې د تراويحو دختم لپاره د (۱۷۰۰) قاريانو اوحافظانو ټاکل او اړوندو جوماتونو ته معرفی کول.<br>4. دلمړی ځل لپاره د وزارت په رسمی چوکاټ کی دامامانو او خطيبانو دتحصيلي سويي د ارتقاء په موخه د ائمه وو د تدريب انستيتيوت ، او دقراؤو دتحصيلی سويی د ارتقاء، په موخه د قرائت عالی معهد تاسيس.<br>5. د قرآن کريم په نړيوالو سياليو کی دګډون لپاره په ټول هيواد کی دحفظ اوقرائت ازاده سيالۍ په لاره اچول او د (۷) زره ګډونوالو قاريانو له جملې څخه د (۱۲) غوره قاريانو انتخابول.<br>6. دوزارت د سترو لاسته راوړنو له جملی څخه يو هم دهيواد د شهير قاری ( استاد قاری برکت الله سليم) له لوری دنړۍ په کچه دلمړی ځل لپاره په (۱۴) روايتونو سره به ملی راديو تلويزون کی د قران کريم ثبتول دی چی دهغو له جملی څخه (۱۰) روايتونه يی پخوا ثبت شوی او په تير کال کی د (قالون) په روايت سره بشپړ قرآن کريم ثبت شو او د نورو روواياتو ثبتول دوام لری .<br>7. له امامانواوعلماوسره د دوامداره اړيکو دټينګښت په موخه په مرکز او ولاياتوکی د شوراګانو رامنځ ته کول.<br>8. دعلماو اوخطيبانو لپاره په بيلا بيلو برخو کی د ورکشاپونو او سمينارنو دايرول .<br>لکه ( دښځواوکوچنيانو شرعی اوقانونی حقوق ، له نشه يی توکو سره مبارزه ، له اوربند څخه ملاتړ، د ولادتونو ترمنځ فاصله رامنځ ته کول، له سولی څخه ملاتړ، تاوتريخوالی مخنيوی او.... )<br>9. د خطيبانواوعلماو د ظرفيت لوړونی او دتجاربو د ليږد اوشريکولو په موخه له اسلامی هيوادونو سره تفاهمنامی رامنځ ته کول.<br>( لکه د مصرجمهوری دولت سره د امامانو اوخطيبانو د استولو په هکله تفاهم ). |

10. دلمړی ځل لپاره دجوماتونو د خطیبانو، امامانو او مؤذنینو بستونه له اجیری څخه د (رتب او معاش) دنوی سستم ته لوړول.

**ب : د فتوا ، تدقیق او چاپ په برخه کی :**

1. دهېواد والو د فقهی ستونزو د حل په موخه په تحریری ډول د (۷۲) اوپه شفاهی ډول د (۳۰۰) عنوانه شرعی فتواګانو صادرول.
2. دملي اردو او ملي پولیسو په جزوتامونو، محابسو او د کوچنیانو روزنیزو مرکزونو کې دعلماي کرامولـه لـه لورې د (۱۷۲) ورځو لپاره ارشادي او دعوتی پروګرامونه په لاره اچول.
3. دلمړی ځل لپاره امامانو او خطیبانو ته د لا اسانتیاو برابرولو او دموعظو او خطبو د لابښه انسجام پـه موخـه د (جمعی خطبو) ترعنوان لاندی پـه دوه جلده نږدي (۱۳۰۰) پاڼو کی جمعا (۳۰۰۰) ټوکه کتابونه په دری ژبه تالیف، چاپ او پر امامانوویشل اود پښتو ژبی ژباړه یی تکمیلول اوچاپ ته اماده کول.
4. داسلامي ثقافت د نشر او دعوت په موخه د (۶۷)علمي مقالو لیکل، د (۱۲) علمي او تدقیقي اثرونو چاپول، د پیام حق مجلې (۱۴۴۰۰) نسخو چاپ ، نشر او توزیع کول.
5. په روان کال کی د قران کریم د(۶) خطي اولاسي نسخو تصحیح، بیا کتنه او دچاپ او نشر په هکله نظر ورکول .
6. د عامه پوهاوی لوړوالي او بدو تبلیغاتو دمخنیوی په موخه په بیلا بیلو موضوعاتو کی د ( 9) جلدو کتابونو او رسالو چې ټوټل (18000) نسخې کیږی چاپ او خپرول . لکه ( خطبه های جمعه ،اشنایی با بزرگان دین ، دامامانواوخطیبانودخطبو لارښود ، رهنمای خطبه برای خطباء ، په اسلام کی دښځو حقوق ، اخوت اسلامي) اوداسې نور.
7. د لومړی ځل لپاره په هیواد کی د اسلامی نړۍ د ستر امام حضرت امام ابوحنیفه (رح) په نامـه دولتـي لـوی نشـان جوړول اوهمدا راز د هیواد د سترو اومشهورو مفسرینو، محدثینو، فقهاو او عارفینو هریو ( علامه ابن حبان بستي هلمندي ، امام فخرالدین رازي ، حضرت شاه ولـی الله دهلـوي ، حضـرت علی هجویري ، حضرت مولانا یعقوب چرخي ) په نومونو دولتي مډالونو جوړول.
8. د تاریخي ورځو او دیني مناسبتونو لمانځل او د دیني اوملی شخصیتونومعرفي کول لکه: د نبوي میلاد او دقرانکریم دنزول لسیزې لمانځل ، دعلامـه ابن حبان بستي د شخصیت معرفي کولو په اړه علمي او تحقیق سمینار. دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه د مقام په اړه علمي اوتحقیقي سیمینار.
9. دلومړي ځل لپاره د افراطیت دمخنیوي او د اعتدال د فرهنگ دترویج په هدف د وزارت په تشکیلاتوکې د اعتدال په نامه ریاست رامنځ ته کول.
10. په مرکز او ولایتونو کې د (۳۴۱۱) مدرسو له جملې څخه په تیر کال کې د( ۱۰۴) مدرسو ثبت او راجستر او همدا راز جمعـا د ( ۹۳) دارالحفـاظونو ثبتول.
11. په ټول هیواد کې د مزخرفاتو او منکراتو دمخنیوي لپاره دفالبینانو، ساحرانو، کوډګرانو او کف شناسانو (۷۰۰) دوکانونو او فعالیتونو بنـدول او ورڅخـه تعهد اخیستل.
12. د فساد دمخنیوی لپاره دولتي اداراتو ته دسیارو مبلغینو لیږل.

| | |
|---|---|
| | |
| **حج ، عمره او زيارت** | 1. ***د حج په برخه کې خدمات کال په کال د بهبود او پرمختک په لور روان دي چې په ۱۳۹۷ کال کې هم د حجاجو لپاره لازم خدمات وړاندې شوي لکه:***<br>- د ( ۲۹۴۴۰) حاجیانو تنظیمول او حج ته استول.<br>- دهیواد په داخل کې دلازمو خدماتو وړاندې کول.<br>- په حرمینو شریفینو کې دارشادي او اداري خدماتو وړاندی کول.<br>- په مشاعرو کې د ریل ، ترانسپورت او اضافي خدماتو وړاندې کول.<br>- دحجاجو لپاره تغذیه برابرول.<br>- د حاجي د اوسیدو دځای او حرم ترمنځ د ترانسپورتیشن تیارول.<br>- د صحي او روغتیایی خدماتو وړاندې کول. اوداسې نور.<br>2. د طرزالعمل په اساس دحجاجو د لارښوونې او حجاجو سره دهمکاری په موخه د (۶۵۰) ناظمینو د انتخاب لپاره په ټول افغانستان کې د علماوو، ، امامانو، خطیبانو د پوهنتون او دینی مدارسو له استاذانو ذکور او اناثو څخه عمومي ازموینه اخیستل.<br>3. حجاجوته د غوره خدماتو د وړاندې کولو لپاره د(۶۷۰) ناظمینو، (۳۰) مساعدینو او د (350) بعثې غړو، چې له دی جملې څخه (۶۰) یې صحي او روغتیایی ټیم دی دسعودی عرب هیواد ته استول.<br>4. په مدینه منوره کې دافغانی حجاجو لپاره د وزارت په هڅه او هاند د لومړی ځل لپاره د (مکتب افغانستان ) په نامه دفتر پرانیستل.<br>5. په ۱۳۹۷ کال کې په منظمه توګه د افغانی سرې میاشتې ریاست سره د (۲۸) میلیونه (۷) لکه او (۶۰) زره افغانیو او د معلمینو د قرضې صندوق سره (۲۸۷۶۰۰) ډالرو مرسته .<br>6. د (۵۰) زرو معتمرینو او زائرینو د لیږد له پروسې څخه نظارت چې دخصوصی شرکتونو له خوا د عمرې د ادا کولو په موخه حرمینو شریفینو، عتباتو او د اهل هنودو زیاراتو ته استول کیږي . |

| | |
|---|---|
| اوقاف | ***د اوقافي ملکیتونو دساتنې او ورڅخه د سالمې ګټې اخسيتنې، د عوايدو را ټولولو، د شرعي لاربښوونو په رڼا کې مصرفولو، د غصبي املاکو استرداد او غاصبين عدلي او قضايي ارګانونو ته معرفي کولو په موخه لاندې عمده کړنې ترسره شوي دي :***<br>1. داوقافی چارو د ښه سمون او د عوايدو د قانوني راټولولو او مصرفولو په منظور د اوقافو قانون تسويد او په اړوندو مراجعو کې يې د کار تعقيب (چی اوس مهال دکابينې دقوانينو له کميټې څخه خلاص او کابينې ته دتصويب لپاره وړاندی شوی دی.)<br>2. د (۳۲۷۰۰) جريبه وقفي ځمکو او (۱۴۴۲) بابه دوکانونو په اجاره ورکول او له دی درکه د (۸۵) ميليونو عوايدو را ټول او وقفي ځانګړي بانکی حساب ته يی انتقالول چې دتيرکلونو په پرتله (٪۲۵ ) زياتوالی په ګوته کوي .<br>3. د لومړي ځل لپاره د اړوندو اداراتو په مرسته شاوخوا (۸۰) جريبه اوقافی غصب شوو ځمکو، (۲) بابه غصب شوو وقفي حويليو او (۷) بابه وقفي غصب شوو دوکانونو استرداد او دغاصبينو له لاسه يې ژغورل.<br>4. د (۵۰۷) جريبه نويو وقفي ځمکو چې د حقيقي اوحکمي اشخاصو له خوا وقف شوی دی ثبت او راجسترول.<br>5. د اوقافي ملکيتونو دساتنې او مراقبت په غرض تراوسه مجموعا (۱۰) قطعې ځمکه احاطه شوی چې ددې جملې څخه په تيرکال کې (۱۵۰) جريبه ځمکه احاطه شوی ده.<br>د هديرو چارو دښه تنظيم اودخلکو داړوندو اړتياو دپوره کولو په موخه د کابل د څلورو سمتونو ( چارآسياب، خاک جبار، سروبي ، استالف) په مناسبو ځايونوکې (۶۰۰) جريبه ځمکه دهديرو لپاره ځانګړی کول. |
| اداری | 1. د وزارت ټوله عادی بوديجه ( ۱۴۷۶۵۷۷۰۰۰) يوملیارد، څلورسوه او شپږ اويا ميليونه او پنځه سوه اواوه اويازره افغانی وه چی له دی جملی څخه (۹۵) سلنه يی مصرف شوی ده.<br>2. له (۴۰۷) مليونه افغانی انکشافی بوديجې څخه (۸۷) سلنه بوديجه مصرف شوی ده چی دتير کال په پرتله په مصرف کی ۷ ٪ زياتوالی ښيی.<br>3. دمرکز اولايتونو له دواړوکوډونو څخه دمساجدو داعمار (۹۴) پروژې پشپړول.<br>4. د (۶۷) مليونه افغانيو په لګښت د بلخ ولايت د مبارکی روضی دنوي جامع جومات داعمارچاري بشپړول.<br>5. دازادې سيالۍ له لارې د (۱۵۰۰) نه زيات اداري او ديني چارو کارکونکي په دندو ګمارل .<br>6. د قرائت عالي معهد ودانۍ د (۷) مليونوافغانيو په لګښت آبادول. |